مسئوولیت متن و شکل بدوش نویسندهٔ مضمون میباشد، عقیدهٔ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد

ډاکټر لودویګ آدمک
ترجمه: رحمت آریا

۲۰۲۶/۰۵/۱۱

# د افغانستان بایوګرافیکي قاموس
# دوهم ټوک
## (اته څلویښتمه برخه)

## عبدالبصیر خالد

د محمد اسلم زوی په ۱۹۵۰ز کال کې د بدخشان په یفتل کې زېږېدلی دئ. په فیض آباد کې د شاه محمود له لیسې څخه فارغ سوی دئ. د یفتل په لومړني ښوونځي کې ښوونکی. د اسلامي ایډیالوژۍ تر اغیز لاندې، په ۱۹۷۹ز کال کې ئې له مقاومت سره لاس یو کړ د بدخشان په بېلا بېلو برخو کې په جګړو بوخت دئ. له ۱۹۸۰ز کال راوروسته د پورتني یفتل د سیمې د جمعیت اسلامي بولندوی سو او اوس چې ۱۹۸۶ز کال کې دئ لا هم په جګړو کې بوخت دئ.

## محمد یونس خالص

د ګندمک د خوګیانیو بومي اوسېدونکی دئ. په اسلامي شریعت او الهیاتو کې ئې تحصیل کړی دئ. پښتو لیکوال. د کابل راډیو له لارې او په تنویر افکار کې د اسلامي مطالعاتو په تدریس کې فعال. په ۱۹۶۵ز کال کې د ګهیځ د ورځپاڼې همکار او د کمونیستي ضد سازمان غړی. د داؤود له کودتا وروسته مخفي سو. زوی ئې ونیول سو او په پای کې ووژل سو. خو دی په خپله پاکستان ته وتښتېد. د حزبِ اسلامي غړی او د هغې ډلې مشر چې عمدتاً ئې د خوګیانیو په سیمې جګړه پر مخ بیوله. خالص او مرستیال ئې حقاني اکثراً په افغانستان کې د مجاهدینو په عملیاتو کې ګډون کاوهٔ. په ۱۹۸۵ز کال کې د درېو میاشتو لپاره د پېښور د تنظیمونو د اتحاد مشر سو.

## محمد ابراهیم خلیل

د میرزا افضل احمد زوی په ۱۸۹۶ز کال کې په کابل کې زېږېدلی دئ؛ میرزا افضل احمد [1]: د میرزا احمد جان زوی او د میرزا سعید احمد جامي زنده پیل لمسی. په خطاطۍ، محاسبي او دفتر دارۍ کې ئې زده کړې کړي دي. په ۱۹۱۸ز کال کې د باندنیو چارو په وزارت کې مدیر (مأمورِ دولت) [2]. په ډیلي، پاریس او لندن کې د افغان د سفارتي نمایندګۍ سکرتر. د ملي بانک افسر. ښوونکی. په ۱۹۴۲ز کال کې د تأریخي ټولني غړی. په ۱۹۵۰ز کال کې د آریانا د مجلې مدیر. د تأریخي ټولني مرستیال رئیس. لس کاله ئې په زندان کې تېر کړل. د مطبوعاتو اجرائیوي مدیر. د مزاراتِ کابل په ګډون د یو شمېر آثارو لیکوال. لیکوال، شاعر او خطاط.

---

[1] -Mirza Afzal Ahmad
[2] -Mamur-i-Daulat


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له راالیرلو مخکې په ځیر و لولـئ

# خلیل الله خلیلي

(د امیر عبدالرحمن خان او امیر حبیب الله خان د مستوفی الممالک) محمد حسین خان زوی په ۱۹۰۹ز کال کې د کابل بابر باغ ته نېږدې زېږېدلی دئ. مور ئې د صافي په قبیلې پورې اړه درلوده او پلار ئې (د عبدالرحیم اوښی چې په ۱۹۲۹ز کال کې د هرات والي وو) یو له ډېرو معتمدو او د درنښت وړ درباریانو څخه وو چې په ۱۹۱۹ز کال کې د امیر حبیب الله خان له وژل کېدلو لږ وروسته ووژل سو. خلیلي دا مهال یولس کلن وو. له دې مخکې په اووۀ کلنئ کې ئې مور مړه سوې وه، نوموړي د خپل مور او پلار د یاد په درنښت قصاید ولیکل او دا قصاید ددۀ په اشعارو کې د هغۀ شهکار دئ. د پلار له وژل کېدلو وروسته اړ سو چې د کوهستان په غرونو کې د خپلونو نیکونو کور کې پناه واخلي. خلیلي وکولی سول چې لیک لوست په خپله زده کړي او په هماغۀ تنکي عمر کې ئې د شعرونو حفظ کول پیل کړل. کله چې حبیب الله کلکاني واکمنئ ته ورسېد خلیلي ته په کابل او مزار شریف کې یو شمېر مهم مقامونه وسپارل سول. په ۱۹۲۹ز کال کې د حبیب الله کلکاني له پرځېدلو وروسته خلیلي د دریو میاشتو لپاره په شوروي اتحاد کې تاشکند ته پناه یوړله. کله چې اعلیحضرت نادر خپل سلطنت اعلان کړ، خلیلي کابل ته راستون سو. خلیلي له خپل ماما عبدالرحیم خان سره چې مشهور جنرال او پیاوړ سړی وو، هرات ته لاړ. خلیلي په هرات کې له علماوو او شعراوو سره په ډېره نېږدې اړیکه کې سو او د هغوی اغېز وربادې پریوت. په هرات کې ول چې د خلیلي ادبي استعداد لا وده وکړه. خلیلي خپل لومړی اثر «د هرات تأریخ» ولیکۀ چې ډېرو کسانو دا اثر وستایۀ. په دې پسې خلیلي د صدارت عظمی په دارالانشاء کې کار وکړ. خلیلي په تدریج سره مشهور شاعر سو. په ۱۹۴۴ز کال کې خلیلي، ماما ئې او ټوله کورنئ په دې شک زندان ته واچول سول چې ګنې د صافیانو د پاڅون پرمهال دوی د خپلې قبیلې ملاتړ کړی دئ. کله چې له زندانه آزاد سو، خلیلي په کندهار کې تر هغو په تبعید کې ژوند وکړ چې په ۱۹۴۸ز کال کې د کابل پوهنتون د ادبیاتو په پوهنځي کې د مُدَرس په توګه وګومارل سو. په ۱۹۴۹ز کال کې د شاه محمود د کابینې منشي. په ۱۹۵۱ز کال کې د اطلاعاتو او نشراتو وزیر. په ۱۹۵۳ز کال کې د اعلیحضرت محمد ظاهر شاه د اطلاعاتو او نشراتو مشر سلاکار. په ۱۹۵۶ز کال کې له جبل السراج څخه د ولسي جرګې لپاره د ولسي جرګې غړی وټاکل سو. د (وحدت ملي) د منځلاري ګوند بنسټ ایښودونکی او رئیس. شپږ میاشتې وروسته ئې په سعودي عربستان کې د سفیر په توګه وټاکل سو. د تأریخي ټولنې غړی او د کابل پوهنتون د پاړسي ادب پوهاند. له ۱۹۶۹ تر ۱۹۷۸ز کال پورې د عراق سفیر. د غوایي له پاڅون وروسته ئې د مارکسیستي واکمنئ پر ضد ئې مخالفت وښود. په ۱۹۸۴ز کال کې د پاکستان د ولسمشر سلاکار وګومارل سو. اوس ۱۹۸۵ز کال د پاکستان په اسلام آباد کې ژوند کوي. خلیلي ټولټال ۵۴ کتابونه، د افغانستان په هکله یو مونوګراف او همدا شان د سولې او آزادئ په هکله ئې مقالات لیکلي دي. د یو شمېر اشعارو ټولګه ئې په څلورو ټوکونو کې چاپ سوې ده. د خلیلي آثار د آسیا او اروپا په ادبي کړیو کې شهرت لري. افغانان او ایرانیان ئې د معاصري پاړسئ ستر شاعر ګڼي. خلیلي ته په کور دننه او له هېواده دباندې یو شمېر اکاډیمیک مډالونه ورکړل سوي او په افغانستان او فرانسې کې ئې لوړ ترینه اکاډیمیک مډالونه تر لاسه کړي دي. خلیلي یو کتابتون لري چې شل زره ټوکه کتابونه لري؛ دا د دۀ د ټول ژوند یوازینئ پانګه. ده چې د خپل کار او ژمنې په مټ ئې راټوله کړې ده. د خلیل الله خلیلي وروستنی چاپي اثر د حبیب الله کلکاني په هکله دی چې «عیارې از خراسان» نومېږي. د خلیلي د دیوان لومړئ او



افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارئ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ

دوهمه برخه په تهران کې په ۱۹۶۰ او ۱۹۷۵ز کال کې چاپ سوه او دریمه برخه ئـې په ۱۹۸۴ز کال کې په پاکستان کې چاپ سوه.

## ډگرمن خلیل الله

د ,, یوهٔ بزگر,, محمد اعظم زوی، په ۱۹۴۴ز کال کې په شیوه کیو کې زېږېدلی دئ. د لغمان استوگن دئ. تر لسم ټولگي پورې د غازي لیسي ته تللی دئ. په ۱۹۶۳ز کال کې ئـې د ,,نظامیه/ حربي په ښوونځي کې,, یو کلن کورس ولوست. په ۱۹۶۴ز کال کې دریم بریدمن. له ۱۹۶۴ تر ۱۹۶۵ز کال پورې په اتمي مرکزي فرقي کې. په ۱۹۶۵ز کال کې د توپچي ځواک ضابط. له ۱۹۶۵ تر ۱۹۶۸ز کال پورې په حربي پوهنتون کې. د ۸۸ توپچي غنډ ,,قوای ۸۸,, بولندوی. د ,,احتیاط د ضابطانو د ټولي,, بولندوی. په ۱۹۷۰ز کال کې په پینځلسم زغره وال ځواک کې. د ۱۹۷۳ او ۱۹۷۸ز کلونو په دواړو کودتاگانو کې ئـې مهمه ونډه ولوبوله. له ۱۹۷۳ تر ۱۹۷۸ز کال پورې د ۸۸ ځواک درستیزوال. په ۱۹۸۰ز کال کې له دوه وو تر دریو وو میاشتو پورې د ۸۸ ځواک بولندوی. د قوای مرکز د توپچي ځواک بولندوی. د ۱۹۷۸ز کال د جولای له میاشتې د ۱۹۷۹ز کال د دسمبر تر ۲۷ نـېټـې پورې زنداني. د کابل د گارنیزیون او مرکزي ځواکونو بولندوی. د مرکزي کمېټي او انقلابي شورى غړی. د ۱۹۸۴ز کال تر جنوري پورې د دفاع مرستیال وزیر. په ۱۹۸۴ز کال کې د هرات والي او د لویدیځ زون بولندوی. څلور زامن لري. مورنی ژبه ئـې پښتو ده.

## ډاکټر ځلمی خلیلزاد

د خلیل الله زوی په ۱۹۵۱ز کال کې په مزار شریف کې زېږېدلی دئ. په ۱۹۶۸ز کال کې د غازي له لیسي څخه فارغ سوی دئ. په ۱۹۷۲ز کال کې د بیروت له امریکایي پوهنتون څخه د لیسانس او ماسترۍ په درجي فارغ سو. او په ۱۹۷۹ز کال کې ئـې خپله دکتورا د شیکاگو له پوهنتون څخه واخیستله. په ۱۹۸۲ز کال کې د کولمبیا په پوهنتون کې د سیاسي علومو پوهیالی. د سولي او جگړې د مطالعاتو د انستیتوت غړی. په ,,نیویورک کې د باندنیو اړیکو شورای، د نړۍ والو چارو همکار,, [3]. د ,,ملي دفاع پوهنتون، مشر همکار,, [4]. د ستراتیژیکو مطالعاتو د نړۍ وال انستیتیوت غړی. د : الهي حکومت : د ایران اسلامي جمهوریت [5] د کتاب مرستیال لیکوال؛ او د سویل لویدیځي آسیا امنیت [6] د کتاب مؤلف. همدا شان یو شمېر مقالي ئـې هم لیکلي دي.

## عبدالقدیر خلیق

,,د محمد ناصر د زوی,, محمد طاهر زوی په ۱۹۲۱ز کال کې په کابل کې زېږېدلی دئ. د حبیبیـې له لیسي څخه فارغ سوی دئ. په ۱۹۴۴ز کال کې له حربي پوهنتون څخه فارغ سوی دئ. له ۱۹۴۵ تر ۱۹۴۷ز کال پورې ئـې په هندوستان کې پوځي روزنه ولیدله. په ۱۹۵۰ز کال کې په لندن کې د ,,سټاف کالج اېند رویل انجنیرینک اکاډیمۍ,, [7] ته تللی دئ. په ۱۹۶۴ز کال کې د امریکا د متحده ایالاتو د ,,کماند جنرال سټاف کالج، یونایتد سټیټ,, [8] ته تللی دئ. انجنیر

[3] - International Affairs Fellow, Council of Foreign Relations, New York
[4] -Senior Fellow, National Defense University
[5] -The Government of God : Iran's Islamic Republic
[6] -The Security of Southwest Asia
[7] -Staff College and Royal Engineering Academy
[8] - Command General Staff College, United States


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینگه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بنې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولـئ

ډ قوماندې ډندې[9]. په ۱۹۶۵ز کال کې د ملي دفاع په وزارت کې د باندنۍ رابطې مشر. د قوای کار بولندوی. په ۱۹۷۳ز کال کې د دریو ورځو لپاره ونیول سو خو بیرته تبرئـه سو. د ملي دفاع وزارت کې د مهماتو مشر. په ۱۹۷۵ز کال کې د ملي دفاع د وزارت د استخباراتو رئـیس. د ډ داؤود تر مشرۍ لاندې د دفاع د وزیرډجنرال رسولي ډېـر نـېـږدې مشاور وو. له میموني فلاح سره ئـې وادهٔ کړی او پینځه بچیان لري. په دري، پښتو، انګلیسي، تورکي، جرمني او روسي ژبو خبرې کوي. ویل کـېـږي چې په ۱۹۷۸ز کال د غوایي له پاڅون سره سم له ځنډ پرته اعدام سو.

## شیر عالم خالقي

ډ غوایي له پاڅون وروسته‍ د بلخ د بزګرو د کوپراتیفونو د اتحادیې رئـیس وو.

## فضل الحق خالقیار

یو هراتی دئ چې په ۱۹۳۰ز کال کې زېـږېـدلی دی. اقتصاد ئـې د کابل په پوهنتون کې لوستی دئ. د پلان په وزارت کې اداري رئـیس. د کابل ولایت د مالي چارو افسر. په ۱۹۷۲ز کال کې د بغلان والي. په ۱۹۷۳ز کال کې او له ۱۹۸۰ تر ۱۹۸۵ز کال پورې د مالیې وزارت مرستیال وزیر. د ۱۹۸۵ز کال د دسمبر په میاشت کې په اقتصادي چارو کې مشاور وزیر. د ګوند غړی نـهٔ دئ. مورنۍ ژبه ئـې دري ده.

## نور بیا

### خان عبدالغفارخان

د بهرام خان زوی، په ۱۸۹۰ز کال کې د شمال لویدیځې کرښې په ولایت NWFP د «هشت نګر»...

## قدرمنو لوستونکو! د بناعلي رحمت آریا د آرشیف: لینک

---

[9] -Command Assignments



افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولـئ